# شلمه عيسوي پېړۍ کښې

## پښتو ژبې او ادب باندې د سياست اثرات

ډاکټر ميا سهيل انشاء

**Abstract:**This paper unpacks a comprehensive historical account of the Pashto language and literature. It traces back the very initial periods of the construction of literary genres and languages and also takes the reader to imagine the evolution of Pashto language and literature as complementary factors. The writer has used authentic references for supporting his main argument of the paper.

دنيا کښې د کومې ژبې د ادب مطالعه هم د ادبي دوره بندۍ نه بغېر نيمګړې ښکاري. پښتو ژبې او ادب د مطالعې دپاره هم د دوره بندۍ ضرورت محسوس شوی ؤ. په دې لړ کښې په افغانستان کښې په درې نشستونو مشتمل په فروري 1987ء کښې د يو سمپوزيم انعقاد و شو. (۱) د کافي سوچ بچار او بحث و مباحثې نه پس د سمپوزيم غړو د پښتو ادب د دوره بندۍ دپاره يوه خاکه مرتب کړه. او د افغانستان يو ليکوال محمد صديق روهي د دې خاکې خدوخال په خپله مقاله کښې واضحه کړه.(2) وروستو د افغانستان مشهور محقق زلمي هيوادمل په دې کښې نوره ښکلا پيدا کړه. (3) د دې دواړو ترتيب شوې خاکې د دې تقاضا کوي چې څۀ نور توضيحات په دې کښې ځائ شي. په دې باندې راقم السطور يوه مقاله وليکله.(4) اوس چې دا درې واړه تحريرونه په نظر کښې واخلو. نو دا دوره بندي مختصراً په دې توګه پيش کولی شو:

وړومبنۍ ادبي دوره يا لرغوني ادبي دوره 1550- 748ء

دوېمه ادبي دوره يا مينځنۍ ادبي دوره 1876 – 1550ء

درېمه ادبي دوره يا معاصره ادبي دوره تر اوسه – 1876ء

داخبره ضروري ده چې 1876ء پورې ادبي سفر د يو سياسي او جغرافيايي نظام لاندې را روان ؤ. خو بيا په 1893ء کښې د ډيورنډ لوظنامې لاندې پښتون سر زمين دوو برخو کښې ويشلی شو. يو خو افغانستان شو او بل هندوستان سره شامل شو. په دې دواړو ملکونو

کښې بېلا بېل سياسي نظامونو په وجه دا دوره په بېلا بېلو طريقو سره مخ په وړاندې روانه وه. دغه وجه ده چې په دې جغرافيايي خوازو کښې د دوئ منزلونه جدا جدا دي.

**افغانستان**: دلته د معاصر ادبي دورې څلور منزلونه په ګوته کولی شو.

(۱) د روشنفکرۍ پړاو ..... 1946- 1876ء (په افغانستان کښې دننه او بهر)

(۲) د بيدارۍ پړاو ............ 1978- 1946ء (په افغانستان کښې دننه)

(۳) د انقلاب پړاو ............ 1992- 1978ء (په ملك کښې دننه او بهر)

(۴) يو منځ مهالی پړاو ........ تراوسه – 1992ء (د ملك نه بهر)

دا وضاحت به هم بد نۀ وي چې اوس يو ځل بيا داسې وخت راغلو چې دا ادب ملك کښې او او بهر دواړه ځايونو کښې تخليق کېږي، خو کله به په بشپړه توګه صرف افغانستان ته رجوع کوي. دې دپاره د وخت انتظار په کار دی، د امير عبدالرحمٰن په دور کښې ډېر خلق د هغۀ له خوفه خپل ملك نه هند ته تلي وو او د امير حبيب الله خان په دوره کښې حالات سمېدو سره واپس راغلل، دې خلقو ځان سره د هند د روشنفکرۍ اثرات هم راوړي وو. دې خلقو خپل ملك کښې داسې ادب تخلق کولو چې ذهنونه د لويي افکارو او خيالاتو نه منور کړي. په دې خلقو کښې محمود طرزي او غلام محی الدين افغان نومونه په سر کښې راځي"(۵).

دويم پړاو هم د افغانستان په سر زمين کښې پيدا شو. هم هلته وتوکېدو. او هم هلته ئې ترقي وکړه. د درېيم پړاو يو اړخ په افغانستان کښې د ثور انقلاب لاندې وده کوله کوم ته چې حکومت انقلابي ادب او افغان مهاجرو کميونستي ادب وئيلو، د دې پړاو يو بل اړخ د پاکستان په پښتني سيمو کښې زرغونېدو. کوم ته چې دوئ اسلامي ادب او د افغانستان اولس د پاکستان د ايجنسيانو په لمن کښې وده کونکی ادب وئيلو، څلورم پړاو مکمل طور سره پاکستان کښې تخليق کېدو. دا د ډاکټر نجيب الله د سقوط نه پس پيل شو. او د جناب حامد کرزي تر ابتدائي دور پورې ئې دوام وکړو. اوس هلته اداري بحال شوې نو ځکه يو

ځل بيا دا ادب پاکستان او افغانستان کښې په شريکه تخليق کېږي. خو مکمل طور سره به واپسي کله کوي په دې بابله څۀ وئيل د وخت نه مخکښې دي.

**پاکستان**: دلته په درې بېلا بېلو وختو کښې ئې داسې پړاوونه په ګوته کوو:

(الف) شمالي پښتونخوا (موجوده خېبر پښتونخوا) ورسره تړلې قبايلي علاقې.

(۱) د ازادۍ نه مخکښې پړاو ............ 1947 – 1876ء

(۲) د ازادۍ نه پس ته پړاو ............ تراوسه – 1947ء

(ب) **جنوبي پښتونخوا** (موجوده بلوچستان کښې هغه نهه ضلعې چې پښتون په کښې اکثريت کښې دی).

(۱) د ازادۍ نه مخکښې پړاو ......... 1947 – 1876ء

(۲) د ازادۍ نه پس ته پړاو ......... تراوسه – 1947ء

(ج) سند (دلته تقريباً ديارلس لکه پښتانۀ داسې شته چې پښتو ژبه وايي)

(۱) ازادۍ نه پس ته پړاو .......... تراوسه – 1947ء

**خارجي هېوادونه**:

(الف) مستشرقين، په يو پړاو کښې مطالعه کېداى شي.

(۱) يو پړاو ................. تراوسه – 1818ء

(ب) تيت و پرک هېوادونه چې په کښې پښتانۀ ادب تخليق کوي.

(۱) د ازادۍ نه پس ته پړاو ....... تراوسه – 1847ء

(ج) **هند**: (۱) د ازادۍ نه مخکښې پړاو ......... 1947- 1876ء

(۲) د ازادۍ نه پس ته پړاو .......... تراوسه – 1947

اوس به پښتو ادب باندې د سياسي اثراتو جايزه واخلو. په دې کښې خارجي هېوادونه زمونږ دائره کښې نۀ راځي. دې نه پرته دا هم يو حقيقت دی چې دلته پښتونخوا کښې د برطانوي سامراج په ضد چې څومره قربانۍ خلقو ورکړې دي او دلته چې د مختلف سياسي پارټيانو او په ځانګړې طور سره د خدايي خدمتګار تحريک کوم رول پاتې دی نو د هغې شهرت نه صرف دا چې د هند په اولس کښې ډېر مقبول ؤ بلکې د هند نه بهر هم دې تحريک خپل اثرات مرتب کړي دي. افغانستان کښې د

شاهي نظام په دورې کښې نۀ خو تحريکونه وو او نۀ قربانۍ وې په دې وجه هلته سياسي عمل ډېر کم دی. په دې وجه د هغه ځای په ادب کښې د سياسي ا غېزې سوال هم نۀ پيدا کېدو.

د پښتون خوا د سياسي غورځنګ په ادب اثرات مرتب کولو نه وړاندې دا ضروري برېښي چې د دې ځای په پښتون ابادي لږ بحث و شي. د کال 1998ء د سر شمېرنې مطابق (خيبر پښتون خوا) ابادي 912، 753، 17 ښودلې شوې ده. په دې کښې 9ء 73 فيصد پښتانۀ دي يعنې 416، 105، 13(۶) قبايلي علاقه جاتو ابادي 331، 176، 3 ده چې په کښې 1ء 99فيصد پښتانۀ دي(۷) يعنې د خيبر پښتونخوا د قبايلي علاقو ابادي 243، 912، 2 جوړېږي. په دوئ کښې پښتانۀ 32، 253، 16 دي او د ټول 72ء77 فيصد جوړېږي نورې ژبې داسې دي: سرائيکي ، 3 فيصد ، پنجابی 1فيصد ، اردو 8 فيصد او د نور 29 لويو وړو ژبو وئيونکي 651، 625، 3 دي چې خيبر پښتونخوا د ابادۍ 4ء20فيصد جوړوي(۸) د افغانستان پښتون ابادي د خيبر پښتونخوا د پښتون ابادۍ نه هم کمه ده يعنې هلته 50او 855، 9 وګړي دي چې د ملك 55فيصد دي(۹). اوس به پښتونخوا کښې د دې د اثراتو جاج واخلو.

(۱) **د ازادۍ نه مخکښې پړاو**: پښتو ادب کښې د معاصر ادبي دورې اغاز اصل کښې دې خطې نه شوی دی. دلته د نولسمې پېړۍ په اخيره کښې يعنې 1876ء کښې ميا حسيب ګل کاکاخېل (1888 – 1815ء) د ډپټي نذير احمد يو ناول "مراة العروس" پښتو کښې د "نقشِ نګين" په نوم ترجمه کړو کوم چې يو ګټور قدم ؤ. جديد اصنافو کښې ناول هم شامل دی. که دا د ترجمې په ذريعه هم يوې ژبې ته داخل شي نو دا بيا د جديديت په زمره کښې راځي. په دې وجه ميا صېب د پښتو د جديد ادبي دورې نقيب دی. بيا شمس العلماء علامه سيد قاضي مير احمد شاه رضواني (1934 – 1860ء) د څو نورو کسانو په ملګرتيا جديد نثر دپاره زمينه مساعده کړه. بيا 1905ء کښې يو بل نوميالي ميا يوسف کاکاخېل د ډپټي نذير احمد يو بل ناول "توبة النصوح" ترجمه هم په دې نوم په پښتو کښې وکړه.

رضـواني صـېب اګرچې پـه نثـر کښې پـوره جديـديت خپـل نـه کـړی شـو خـو پـه نظم کښې ده په 1898ء کښې خپل شاهکار نظم:

پـــه پښـــتو ژبـــه کـــه ډېـــر وو شـــاعران
خــو پــه واړو کښــې بادشــاه ؤ خوشــحال خــان

وليکلــو، او پــه دې کښــې ئــې د پښــتو د اتــو کلاســيکو شــاعرانو د شـاعرۍ يـو داسـې تنقيـدي جـاج واخسـتو چـې ان تـر ننـه پـورې هغـه د خلقـو دپـاره د يـو راهنمـا کـار ورکـوي. د دۀ پـه کـلام کښـې د نېشـنلزم پـه بنيـاد خپـل قـوم سـره د مينـې درس ترلاسـه کېـږي. زمـونږ د هغـه زمـانې اکثـر اديبـانو پـه کـلام کښـې پښـتون قـوم سـره يکجهتـي پـه داسـې انـداز کښـې و سـاتلی شـوه. لکـه چـې دا قـوم د زمکـې نـه بلکـې اسـمان نـه نـازل شـوی دی. دوئ تـه پـه دې قـوم کښـې هـېڅ نقـص نـۀ ښـکارېدو. کـوم چـې يـو غيـر حقيقـت پسـندانه او غيـر فطـري عمـل دی. د دنيـا هـر قـوم د ښـو او بـدو صـفاتو حامـل دی. پښـتون هـم تـرې نـه بـچ نـۀ دی. دغـه وجـه ده چـې رضـواني کـه د پښـتون قـوم د صـفاتو پـه ذکـر نـاز کـوي نـو بـل طرفتـه دې قـوم کښـې موجـودې غلطيـانې هـم پـه ګوتـه کـوي او پـه افسـوس سـره وايـي چـې: "دا بـد صـفات بـه دې قـوم نـه څنګـه ختـم شـي. يعنـي دې د شـا ونـزم نـه پـاك نېشـنلزم يـو علمبـردار دی او بيـا ډېـره مـوده پس هـم دغـه شـېوه غنـي خـان هـم وپالـله. پـه پښـتو ژبـه کښـې د تنقيـد رواج لـه پخـوا نـه را روان دی لـېکن دا تقـابلي تنقيـد دی خـو د خپلـو پېشـروګانو بـرعکس د رضـواني تنقيـدي تقـابلې سـره سـره تـاثراتي هـم دی. دۀ چـې د پښـتو پـه کومـو شـاعرانو يعنـي خوشـحال خـان خټـك، اشـرف خـان هجـري خټـك، عبـدالقادر خـان خټـك، کـاظم خـان شـيدا خټـك، عبـدالرحمان بابـا مومنـد، عبدالحميـد بابـا مومنـد، علـي خـان او بـابو جـان نعمـاني پـه کلامونـو کـوم ادبـي نقـد پـه 1898ء کښـې کـړی دی هغـه اوس هـم د ځـوان نسل دپاره د بل مشال کار کوي. (10)

وئيلـی شـو چـې د پښـتو درې "احمـده" يعنـي مولـوي احمـد د تنګـي، شـمس العلمـاء قاضـي اميـر احمـد شـاه رضـواني د اکبـر پـورې او منشـي احمـد جـان د پېښـور د جديـديت بنيـاد دپـاره لار هـواره کـړې وه. او کـار ئـې

هم تر ډېره حده مخ په وړاندې بوتلی ؤ. لېکن د دې خبرې اقرار به هم کول غواړي چې دې کار ته چې کوم شخصيت په تېز رفتارۍ او برق رفتارۍ سره ترقي وکړه نو هغه سيد راحت زاخيلي دی.

په دې خطه کښې په پښتو ادب باندې سياسي اثراتو يوه زماني تذکره به بې ضايع ... ټولو کښې اول ژبې ته په يوه علمي ادارې (يعني محکمه تعليم) کښې د داخلولو او دې ته وده ورکولو پټکی مونږ د علامه رضواني پر سر اېښودی شو. کله چې د دۀ په کوششونو دا ژبه د پنجاب يونيورسټۍ د شرقي علومو په کورس کښې شامله شوه"(۱۱). او کومه ژبه چې په تعليمي ادارو کښې داخله شي بيا د دې ترقي يوه قدرتي خبره وګرځي. هغه زماني کښې د پښتو د جديدو خيالاتو حامل اديبانو يو داسې کاروان تيارېدو چې وروستو به ئې د ادب خدمت کولو. دا د رضواني مرحوم يو داسې کارنامه وه چې پښتون قوم به ئې تر ډېرې مودې پورې ياد ساتي. دې نه پس بيا د اروابناد سيد راحت الله زاخيلي نوم راځي کله چې د دۀ خبرې کېږي نو د دۀ له نامه سره د "وړومبنی" کلمه هم ذهن کښې راځي"(۱۲).

دا يو حقيقت دی چې په پښتو ژبه کښې وړومبنۍ ژباړل شوې افسانه، وړومبنۍ طبع زاد افسانه، وړومبنی ناول، وړومبنۍ انشائيه او وړومبنی منثور نظم دې عظيم او وياړلي شخصيت سره منسوب دی. دې نه علاوه دۀ په مئ 1928ء کښې د علامه اقبال د زبور عجم او بيا په اپرېل 1929ء کښې د پيامِ مشرق نه منظومې ژباړې په وړومبني ځل وکړې او دی په پښتونخوا کښې وړومبنی اقبال شناس وګرځېدو. دلته د دۀ دا منظومې ترجمې په پښتون رساله کښې چاپ شوې.

دا خبره ښکاره ده چې يو باقاعده فعال سياسي تحريک په عدم موجودګي کښې هم پښتو ژبه مخ په وړاندې روانه وه. ولې بيا داسې واقعات راغلل چې دلته انګرېزانو د ازادۍ د شمعې د پتنګانو باندې ډېر زيات ظلمونه وکړل. په دوئ باندې بې دريغه ګولۍ وچلېدې. د پښتونخوا داسې سيمه به نۀ وه چې هلته څوک بچ پاتې وی. جېلونه څو

څو واره لـه دوئ نـه ډك شـول. پـه جېـل كښـې سـزاګانې، مشـقت، بيـد زنـي او نـور نـاروا او غيـر انسـاني سـلوك ټولـه پښـتونخوا متـاثره كـړې وه. د دې پـه مقابـل كښـې پښـتانۀ ځوانـان هـم د عمـل ميـدان كښـې ورګـډ شـول او د 1849ء تـر 1908ء پـورې د انګريـز خـلاف پښـتنو 48 جنګونـه وكـړل"(13). كـه مـونږ جزئيـات پرېـږدو او سـوات طرفتـه خپلـه پاملرنـه راوګرځـوو. نـو د كـافي جدوجهـد نـه پـس ميـا ګـل عبدالودود بادشـاه د سـوات د رياسـت نظـم و نسـق 1915ء كښـې د كبـل پـه مقـام تـر لاسـه كـړو"(4). او د دې رياسـت بـاني وګرځېـدو د پوليټيكـل سـائنس طالـب علمـان پـه دې پـوهېږي چـې رياسـت جـوړول پـه دې قبضـه كـول او پـه دې كښـې اقتـدار قـائمول يـو سياسـي عمـل دى. پښـتنو پـه سـرزمين نـور هـم دوه رياسـتونه يعنـي ديـر او امـب موجـود وو. لـېكن ميـا ګـل صـېب د خپـل رياسـت نظـم و نسـق ډېـره پـه ښـۀ طريقـې سـره وچلولـو. 1915ء كښـې اقتـدار سـنبالولو نـه څـۀ مـوده پـس دۀ پښـتـو د رياسـت دفتـري ژبـه وګرځولـه او دا ئـې وئيـل چـې پښـتـو نـه د اولـس بېـزاري د حكـومتي سرپرسـتى د نـۀ وركولـو د وجـې نـه ده. د ژبـې د ترقـى دپـاره دۀ عملـي لاړ اختيـار كړه.هغـۀ عوامـو او دفترونـو تـه دا هـدايات جـاري كـړل چـې پښـتـو دې سـاده او عـام فهـم طـور سـره وليكلـى شـي (م م. 06- 305) او دې نـه پرتـه د خوشـامدانه قسـم اوږده القابـاتو ضـرورت نـۀ شـته. پښـتـو د رياسـت دفتـري ژبـې ګرځولـو پـه وجـه دى د دې ژبـې محسـن وګرځېـدلو. ( م – 410) داسـې ښـكاري چـې ترلاسـه شـوي ريكـارډ مطـابق دا وړومبنـى رياسـت ؤ چـا چې پښتو خپله سركاري او دفتري ژبه وګرځوله.

دا د ميـا ګـل صـېب پښـتـو ژبـې سـره مينـه وه، ګنـې د ديـر او امـب حكمرانـانو هـم داسـې كـولى شـول. لـېكن دوئ داسـې و نـۀ كـړل. پـه صـوبه كښـې 1908ء نـه پـس هـم د انګريـز خـلاف د مختلفـو تحريكونـو سلسـله جـاري شـوه. ضـرورت د دې خبـرې ؤ چـې دا ټـول لـوئ واړه تحريكونـه پـه يـو واحـد پليـټ فـارم مـنظم شـي. دا كـار د پښـتونخوا د چارسـدې ضـلعې اتمـانزي نـومي كلـي كښـې يـو خـانزاده ترسـره كـړو. دا خـانزاده بـل څـوك نـۀ ؤ بلكـې د بهـرام خـان زوئ خـان عبدالغفار خـان صـېب ؤ او اولـس كښـې ئـې

خلق د "باچاخان" په نوم پېژني. دا تحريك د پښتون قوم د اصلاح دپاره وجود کښې راغلى ؤ. په دې وجه د دې نوم "انجمن اصلاح الافاغنه" کېښودى شو. دا تحريك 1921ء کښې جوړ شو او 1930ء کښې ئې نوم "خدايي خدمتګار" شو"(15) دې خلقو چې د وطن د ازادۍ دپاره کومې بېش بها قربانيانې ورکړې هغه به په تاريخ کښې د سرو زور په الفاظو کښې ليکلى کېږي. د دې تحريك تعلق په هندوستان کښې له کانګرس، جمعيت العلماء هند او علماء ديوبند سره ؤ. سامراج دښمني د دې درې واړو جماعتونو مشترك صفت ؤ. په دې وجه د خدايي خدمتګار تحريك هم د دې سره تړون فطري ؤ.

دا تحريك عوامي ؤ او د ابلاغ دپاره عوامي ژبه ضروري وه. په دې وجه د دې تحريك مشرانو پښتو ژبه داسې خپله کړه څنګه چې شپاړسمه صدۍ کښې بايزيد روښان او د هغۀ پيروکارانو خپله کړې وه. باچا خان په اولس کښې د تحريك مقاصد واضح کولو دپاره په پښتونخوا کښې وړومبنۍ رساله "پښتون" په نوم مئ 1928ء نه جاري کړه"(16) او باچا خان د پښتو صحافت په ميدان کښې هم وپېژندو. صرف په دې بس نه دى دۀ په دې کښې يوه سلسله واره ليکنه "د شلمې صدۍ تهذيب او جېلخانې" زۀ په جېلخانه کښې" يو رپورتاژ نشر کړو او په چې دا طريقه باچاخان د پښتو ژبې وړومبنى رپورتاژ نګار جوړ شو. په دې کښې به د پښتنو ليکوالو مضمونونه، تبصرې او نظمونه شايع کېدل. او هر کله به چې مشاعره وشوه نو د دې شاعرانو کلامونه به هم په کښې شايع کېدل. د ريکارډ مطابق پښتونخوا کښې وړومبنۍ مشاعره د اسلاميه کالج پېښور طالب علمانو په کال 1926ء کښې کړې وه د دې طرحي مشاعرې طرحه وه:

نظاره که غواړې راشه ليلا پرېږده (17)

لېکن خدايي خدمتګار تحريك د داسې صوبائي مشاعرو انعقاد وکړو چې ورکښې په سلګونو شاعرانو برخه اخستله. په مقابله کښې به اول دويم او درېيم ښۀ شاعرانو ته انعامات هم ورکړل کېدل. 1927،

1928ء او 1930ء کښې داسې مشاعرې شوې وې"(18) په دې سالانه اجلاسونو کښې به يوه ستيج ډرامه هم کېده. لېکن د عبدالاکبر خان اکبر په قول يوه سالانه جلسه په 1926ء کښې هم شوې وه. په دې کښې د دۀ يوه ډرامه "تربور" هم ستېج شوې وه"(19). داسې ښکاري چې هم عبدالاکبر خان اکبر د کال 1926ء نه تر 30 پورې مسلسل ډرامې په دې ترتيب دي، "تربور، تهذيب جديد، تعليم جديد، يتيم او نوم واضحه نۀ دی خو د مظلوم زميندار قيصه وه. (م م، 51، 53، 64، 190، 96) وړاندې کړې. په دې طريقه دې تحريک کښې پښتو ادب ته رپورتاژ او ډرامه وبخښله. دې دور منظمې قومي شاعرۍ ته هم وده ورکړه. دې سره ئې د شاعرانو او اديبانو يو بهير هم پيدا کړو او که داسې شاعران وو چې دې تحريک سره تړلي نۀ وو هغوئ هم ترېنه بې اغېزې پاتې نۀ شول. د دې شاعرانو بلکې اهمو شاعرانو يو جدول به وروستو ورکړی شي. کال 1935ء کښې رېډيو هندوستان پېښور بنياد کېښودی شو، نو محمد اسلم خان ختک ورته وړومبۍ ډرامه وليکله"(20).

د معاصرې ادبي دورې دا پړاو که د افغانستان سره پرتله کړی شي نو دا واضحه ده چې د دې ځائ نثر د افغانستان نه پر مخ تللی ؤ"(21) د ترجمو د غلطو اثراتو نه پاك ؤ. په دې نثر پارو کښې اعلې خيالات او خوبصورته الفاظ ډېر په سليقې سره ترتيب شوي وو. ناول، طنز او مزاح، ناولټ، افسانه، ډرامه، سفرنامه، رپورتاژ، انشائيه، ادبِ لطيف، منثور نظم او جديد نظم د دې دور په زړۀ پورې ډالۍ دي. په دې پړاو کښې 1908ء کښې د راحت زاخيلي په ادارت کښې "افغان" په نوم يو اخبار پيل شو. بيا د دې تحريک په نتيجه کښې چې کوم اخبارونه او رسالې شايع شوې هغه داسې دي. پښتون، افغان، (ادارت ميا ازاد ګل کاکاخېل 1924ء) رښتينی خدايي خدمتګار، ازاد پښتون، سرخپوش، شمله، رهبر، المجاهد او سرحد وغېره"(22). د ادب په دې پړاو کښې د ازادۍ دپاره جدوجهد، وطن دپاره قرباني، قوم کښې سياسي بيداري، د تعليم حصول او برطانوي سامراج نشانه کول بهترين موضوعات وو.

**د ازادۍ نه پس ته پړاو**: په وړومبني پړاو کښې د خدايي خدمتګار زور ؤ. په مقابل کښې ئې نور جماعتونه کمزوري وو. د نوجوان بهارت وجود تر پېښور ښار پورې محدود ؤ. يوتهـ ليګ هم د يو محدودې علاقې نه بهر نۀ وتلو. په 28اپرېل 1938ء کښې د نوښار ضلعې اکوړه ختهك کښې سوشلستې کانفرنس انعقاد وشو. د دوئ د قربانيانو نه انکار ممکن نۀ دی. لېکن دا هم يو حقيقت دی چې دې ټولو د ژبې په مسئله څۀ خاص نقطه نظر وړاندې نه کړی شو. د لويو جماعتو لکه مسلم لېګ، پيپلز پارټۍ، جمعيت العلماء اسلام او جماعت اسلامي په منشور کښې د پښتو ژبې په بابله څۀ د قدر وړ ذکر نۀ شته. لېکن د دې مطلب دا هم نۀ دی چې په دې جماعتونو کښې اديبان او شاعران نۀ شته. دا خلق خود رو طريقې سره مخ په وړاندې تلل. لکه امير حمزه شينواری، دوست محمد خان کامل مومند او محمد اسلم خان کمالي وغېره.

په کال 1950ء شا و خوا کښې دغه اول الذکر دوو او کاکاجي صنوبر حسېن مومند په کوششونو سره يوه ادبي جرګه د "اولسي ادبي جرګې" په نوم جوړه شوه. د دې جرګې په کرېډټ کښې نور هم د قدر وړ کوششونه دي، لېکن کوم چې په دوئ ټولو کښې غټ کرېډټ دی هغه دا چې دوئ مونږ ته پښتون معاشره کښې د تنقيد چل او اصول وښودل. دا خبره ډېره مشهوره ده چې حمزه بابا يو عاميانه غزل وليکلو. چې په دې د اديبانو سخت تنقيدونه مخې ته راغلل. حمزه بابا دوئ ته ډېر داد ورکړو چې دا ښۀ ده چې تاسو تنقيد کولو کښې زما هېڅ خيال و نۀ ساتلو. او بيا ئې خپل اصل غزل واورولو چې پرې هم د دې خلقو له طرفه بابا ته داد ورکړی شو. تاسو وکتل چې دې مشرانو ځوان نسل کښې تنقيدي شعور را برڅېره کولو دپاره کومې کومې طريقې استعمال کړې. دوست محمد خان کامل مومند په جديد تنقيد، تحقيق او تاريخ کښې يو لوړ نوم دی. د دۀ سائنسي اندازِ فکر، غير جانبدارانه تجزيه، علمي انداز او هر اړخيزه جائزه د قدر وړ ده. د دۀ کار مونږ اردو دانو سره ښنګ په ښنګ درولی شو. همېش خليل د پښتو د کلاسيك شاعرانو ديوانونه را برڅېره کولو. په دې باندې عالمانه

مقدمه ليکلو او شايع کولو په وجه د پښتو ادب د کولمبس په نوم مشهور شو. دا داسې دواوين وو چې ذکر ئې چا هم نهٔ ؤ کړی. که چرې د کامل صيب په قدم چا صحيح قدم ايښې دی نو هغه هم دی دی.

پښتو کښې د مارکسټ ادب بنياد کاکاجي صنوبر حسين مومند ايښی دی. نن سبا سليم راز د "انجمن ترقي پسند مصنفين" يو فعال نمائنده دی. تنقيد کښې يو نوم دی. د دهٔ غټې کارنامې دا دي چې په 19 – 21 اپريل 1987ء کښې ئې يو عالمي پښتو کانفرنس وکړو. او بيا ئې 3- 5 نومبر 2000ء کښې دويم عالمي پښتو کانفرنس وکړو. پښتو ادب په ترويج کښې د حکومتي ادارو رول د فنډونو باوجود تسلي بخش نهٔ دی. د پښتو اکېډمي پېښور په مياشتنۍ رساله جنوري- مارچ 2009ء سيريل نمبر 639 دی. د دې په مقابل کښې پېښور کښې دانش کتابخانې مهتمم اسد الله دانش د اوولس کالو په موده کښې څهٔ اتلس سوه (1800) کتابونه په متنوع موضوعاتو باندې چاپ کړي دي. د ساپي څېړنو مرکز سلو نه زيات اثار خپاره کړل. ولې د سرکاري ادارو حالت افسوسناك دی. وجه ئې دا ده چې له دوئ سره فنډونه شته. خو ښهٔ منتظمين ورسره نهٔ شته او نجي ادارو سره ښهٔ منتظمين شته خو فنډ نهٔ لري. پېښور کښې دارالتصنيف هم قيمتي کتابونه چاپ کړي دي. چې نشر و اشاعت ته راشو نو 1967ء کښې چې کله کښې وړومبنی ټي وي سټېشن قايم شو، وړومبنۍ ټي وي ډکو منټري شهزاد خليل په پېښور جوړه کړه. دويمه او درېيمه په ترتيب سره په دره خېبر او دره کوهاټ باندې جوړ کړی شو. د دې دويم پړاو په پيل کښې کال 1949ء کښې کاکاجي صنوبر حبسن مومن په قيادت کښې اسلم نومې مجله پيل شوه"(24) په دې کال کښې د ګورويك وزيرستان نه فقير ايپي په سرپرستۍ کښې "غازي" او هم دلته نه ظهور الدين رمضاني په قيادت کښې سلطان کلي نه 1949ء کښې "پښتونستان" جاري شول. پښتو (د مهدي شاه باچا) پښتو ( د الفلاح خصوصي ګڼه) ننګيالی دوران غنچه، قند، لوئ پښتون، (سيال مومند) ازاد پښتون، د پښتو او ازاد د

ګرويګ نه نياز علي ويستله. ژوند، خپلواك او انصاف مجلې شايع کېدې. (م م. 28- 130. د دې ټولو رسالو شا ته سياسي قوتونه کار فرما وو.

په افغانستان کښې د 28اپرېل 1978ء د ثور انقلاب نه پس هلته يو مارکسستې ادب وجود کښې راغلو. دلته په پاکستان کښې افغان مهاجرينو د دې پر ضد يو بل ادب تخليق کولو چې دې خلقو ورته مزاحمتي ادب وئيل. خو په افغانستان کښې دې ته د پاکستان د چترۍ لاندې يو بغلچه ادب وئيل کېدو. په 1992ء کښې د ډاکټر نجيب حکومت ختم شو. نو هلته نه انقلابي اديبان هم دلته په هجرت مجبور شول اوس د دې ټولو اديبانو مقصد په افغانستان کښې امن، د قانوني حکومت قيام، د ښې او کينې لاسو د شدت پسندۍ مخالفت وغيره شو. دلته راتلو سره دوئ ډېر څۀ زده کړل. هر قسم صنفونو کښې ئې طبع ازمايي وکړه. د افغان ادبي بهير او افغان فرهنګي ټولنې هفته وار اجلاسونه کېدل. ابتداء کښې د دوئ په فنپارو تنقيد کول مرګ ته دعوت ورکولو مترادف ؤ. لېکن اوس په دوئ کښې د برداشت کلچر لار پيدا کړه. او د تنقيد زغملو حوصله هم ورکښې راغله. که چرې دوئ د دې ځائ د ليکوالو نه ډېر څۀ زده کړي نو د دې مطلب دا هرګز نۀ دی چې د دې ځائ ليکوالو دوئ نه څۀ زده نۀ کړل. دلته دا يو څو کمبوتې وې. چې مونږ دوئ نه زده کړل.

(۱) دلته له جديد لسانياتي علومو سره د شاخونو او خصوصياتو رواج و نۀ مونډلی شو. سيوا د خيال بخاري نه چې هغۀ د جديد لسانياتو نه واقف ؤ. لېکن خو څو مقالو او يو کتاب نه پرته ئې څۀ و نۀ ليکل.

(۲) دلته جديد ادب شناسۍ نه کم خلق واقف دی ادب شناسي څۀ شی دی؟ او د دې څومره ښاخونه دی؟ د دې په بابله تراوسه دلته کښې څوك اشنا نۀ دي"(25). د تحقيق او تنقيد ميتهډالوجي چې مغرب کښې عامه ده دلته رواج و نۀ مونډلو.

دلته به دا خبره کول وي چې د اردو په ذريعه زمونږ خلق دې نه اشنا دي. لېکن د يونيورسټۍ او ډيپارټمنټ په سطح د دې تعليم نۀ شته چې په

دې وجه مونږ دلته يو نوی نسل پيدا نۀ کړی شو. دلته نه افغان مهاجر تقريباً يو سل او پينځويشت رسالې جاري کولې لېکن د حکومت کارکردګي کمزورې وه. دا خبره دې واضحه وي چې 1972ء کښې پښتونخوا او بلوچستان کښې د نېپ او د جمعيت حکومتونه وو. دې دواړو حکومتونو خپلو صوبو کښې د مقامي قومي ژبو، پښتو او بلوڅي په ځائ اردو سرکاري ژبه کړه. او د خپل منشور نه تېر شول. په دې لړ کښې وئيلی شي چې د نېپ مجبوري وه. که هغوئ داسې نۀ کول نو اتحاد ماتېدو. خو اوس څۀ چل دی ايا پښتونخوا کښې پښتو ژبه سرکاري ژبه سره اوس هم اتحاد ماتېږي. او که نور څۀ مصلحتونه دي؟. سابقه ګورنر ليفټيننټ جنرل فضل حق تر پرايمري پورې پښتو د تعليم ذريعه کړې وه. او په دې لړ کښې کافي کار هم شوی ؤ. لېکن د اساتذه ريفريشر کورسونو د عدم موجودګۍ په وجه دا منصوبه ناکامه شوه. پښتو ډيپارټمنټ نه تراوسه پورې دو درجنو نه بره بره طالب علمانو پي ايچ ډي ډګرۍ ترلاسه کړې دي چې د يو تعداد خلقو موضوعات ورکښې ادب او سياست سره تړلي دي. د دې پړاو عمده تحفه تحقيق او تنقيد بنياد او ترقي ده. اوس د شاعرانو په کلام کښې رومانيت او نورو موضوعاتو هم ځائ موندلی دی.

**جنوبي پښتونخوا**: د کال 1998ء د سر شمېرنې مطابق د دې صوبې کل ابادي 885، 565، 6 کښې 878، 945، 1 پښتانۀ دي"(26) چې د ابادۍ 64ء 29 فيصد تشکيلوي.

**ازادۍ نه مخکښې پړاو**: د تمامو پښتنو په شان دلته هم د معاصر ادبي دورې اغاز 1876ء نه کولی شو. دلته پښتون قوم پرست رهنما عبدالصمد خان اڅکزی په 1936ء کښې د "استقلال" په نوم يو اردو، پښتو اخبار جاري کړو"(27) دلته ملا عبدالسلام 1934ء کښې د "سوسن چمن" په نوم يو کتاب شايع کړو. او عبدالرحمان کاکړ 1940ء کښې "د پښتنانۀ خويونه" شايع کړو چې په کښې د انګرېز دښمنه رويه ظاهرېده"(28) څۀ نوي مسايل هم ورکښې بيان شوي وو. که چرې عبدالصمد خان اڅکزي په دغه دور کښې د قوم پرست تحريك حصه نۀ جوړېدو نو کېدای شي چې زمونږ دا دور ډېر وروستو

پیل شوی وای. بلکې د سند په شان به ئې صرف یو پړاو ممکن ؤ. او د وړومبني پړاو به ئې وجود نۀ ؤ.

**ازادئ نه پس ته پړاو**: په 1952ء کښې د ازادئ وړمې 1953ء کښې پښتو او 1954ء کښې دستور العمل په نومونو سره اخبارات او رسائل چاپ کېدل پیل شو(29). په 1956ء کښې دلته نه رېډیائي نشریات پیل شول چې په کښې پښتو پروګرامونه هم شامل وو. په 1970ء کښې پښتو اکېډمي کوټه په وجود کښې راغله چې ورسره د حکومت سرپرستئ هم شامله وه. دې اکېډمي څۀ مفید کتابونه هم شایع کړل. د دې سیمې ادبي جرګو هم څۀ کتابونه شایع کړل. د پښتو ادیبانو سرګرمئ اوس ژوب، بوري، چمن، پشین او زیارت پورې خورې شوې. د دې صوبې زنانه ډېرې پرده دارې دي. لېکن په ادب کښې خپلو ورونو سره اوږه په اوږه قدم ږدي. څۀ مشهور نومونه په کښې دا دي ولي عهد بېګم، د خان عبدالصمد خان شهید لور، عالیه آسماء، د علامه عبدالعلي اخوندزاده لور، خیرالنساء شینوارې، کرم نساء شینوارې، میر صفیه، میر جمال، پاروکه، یاسمین لوني او پروین لوني امید دی چې مستقبل کښې به دا خطه ډېره فعاله شي.

**سندهـ**: د سندهـ کل ابادي 893، 439، 30 ده په دې کښې 445، 276، 1 پښتانۀ دي او بیا په پښتنو کښې 733، 125، 1 کراچئ کښې اوسېږي(30). په دې وجه سندهـ یوه جدا پښتون ادبي سیمه جوړېږي. دلته صرف یو پړاو دی. د ازادئ نه پس ته پړاو. دلته طاهر افریدی جدید اصناف خپلولو سره د دې معاصرې دورې باني شو. سندهـ پښتنو ته لا ډېر کار کول دي او په نړئ کښې ځان پېژندل دي . امید دی چې د دې ځائ لیکوال به په معاصرې ادبي دورې کښې خپل رول ولوبوي.

که دا ټول بحث را ټول کړو او په معاصره ادبي دوره کښې سل (100) داسې ادیبان واخلو چا چې په دې دوره کښې کار ته په څۀ نه څۀ شکل کښې تقویت ورکړی دی. نو دا به د دوئ د خدماتو یو اعتراف وي. ځکه چې مونږ د مقالې د طوالت د وجې د زیاتره ادیبانو نومونه نۀ دي

ورکـړي. د دې اديبـانو د انتخـاب دپـاره چـې کومـه پيمانـه جـوړه شـوې ده هغه په دې ډول ده:

**1947ء نه وړاندې:**

(۱) عمـومي طـور سـره دا کلتـی شـي چـې شخصـيت کـوم ميـدان کښـې ډېر يادېږي سياست کښې که ادب کښې.

(۲) دې پـړاو کښـې د پښـتو ادب دې کـاروان تـه وخـت ورکـول ډېـر ضـروري وو. دوئ د خپلـو وينـو پـه زور دا کـاروان لارې تـه سـم کـړو او بيـا ئـې ورکښـې حرکـت پيـدا کـړو. پـه دې کښـې هغـه زيـاتره اديبـان شـامل دي چـې تحريرونو کښې ئې ادبي تومنه هم وي.

(۳) پـه دې دور کښـې د ادبـي تخيـل نـه ډېرک ادب د کميـت نـۀ بلکـې د کيفيت محتاج دی.

(۴) پـه دې دور کښـې غيـر جمهـوري او سـامراجي حکومـت پـه ضـد د پښـتو مزاحمتـي ادبـي، صـحافتي ليکـوال هـم حقـدار دي څکـه چـې دا د ازغو دور ؤ د ګلونو د بسترې نه.

(۵) پـه دې دور کښـې چـې کومـو شـاعرانو د جديـد نظـم دپـاره لاره همـواره کـړه او چـې د دوئ کـلام د هيئـت او ماهيـت پـه تـوازن پـوره دی هغـوئ هم دې ډلبندۍ کښې د راتلو حقدار دي.

(۶) پـه دې دور کښـې د پښـتو ادب جديـد اصـنافو پـه ښائسـته کولـو او کــاروان روان ســاتلو دپــاره د کــافي محنــت ضــرورت ؤ. دوئ د خپلــو تخليقاتو په زور دا کاروان روان وساتلو.

اوس د ازادۍ نه پس ته پړاو پيمانې ته به څير شو:

(۷) پـه دې دور کښـې کـاروان خـو هسـې هـم روان ؤ. اوس پېمانـه داسـې شوه چې د دې اسراع زياته شي او ورسره سفر هم اسان او سوکه شي.

(۸) تحقيــق اوس هــم د کميــت پــه ځــائ د کيفيــت محتــاج دی. خــو د تحقيــق او تنقيــد دپــاره د جديــد ســائنس انــداز، غيــر جانبدارانــه ســوچ او اپروچ او د ژورې تجزيې سخت ضرورت دی.

(۹) د کوم اديب چې تخليق يا تحقيق دستياب نهٔ وي او د بلې کومې ذريعې نه ئې هم تصديق و نهٔ شي نو هغوئ له سره په دې ټولي کښې شامل نهٔ وي.

(۱۰) د سرکار په لويو وړو کرسو ناست اديبان چې په معيار پوره وي نو هغوئ هم شامل دي لېکن ځنې خلق د کرسۍ په زور خپل لنډ قد هسې اوچتول غواړي. هر کله چې کرسۍ نه لرې شي د دوئ سره خپلوي پرېږدي او په تېزۍ سره را پرېوځي.

(۱۱) داسې شاعران چې عمر ئې کم دی خو تخليقي معيار ئې په عوام او خواص دواړو کښې منلی شوی دی ورکښې شامل دي.

(۱۲) داسې شاعران چې لا په دغه صفت پوره نهٔ وي او کېدای شي چې مستقبل کښې دغه صفت باندې پوره وخيژي د هغوئ فيصله به د مستقبل اديبان او شاعران کوي.

(۱۳) پښتنو ښځينه شاعرانو دپاره هم دغه پيمانې دي خو که د دوئ تخليقات کم هم وي نو ورته په دې وجه رعايت په کار دی چې دوئ ته کتاب وغېره شايع کول اوس هم څهٔ اسان کار نهٔ دی.

دا لسټ په کرونا لوجيکل ارډر کښې څهٔ دا رنګ دی:

| شمېرنه | د ليکوال نوم | زوکړه او مړينه (هجري سن) | زوکړه او مړينه (عيسوي سن) |
|---|---|---|---|
| (۱) | شمس العلماء مير احمد شاه رضواني | 23رمضان 1853- 20رمضان 1276 | 30دسمبر 1935 11اپرېل 1860 |
| (۲) | ميا محمد يوسف کاکاخېل | زمانه 1323 | زمانه 1905 |
| (۳) | عبدالمجيد سعدي افغاني | محرم 1367 - 1289 | نومبر 1947 – 1872 |
| (۴) | علامه عبدالعلي اخوندزاده | 16شوال 1346 - 19 جمادي الاول 1289 | 24ستمبر 1945 – 25 جولايي 1872 |
| (۵) | منشي احمد جان | 18محرم 1371 - 1300 | 17مئ 1942 – 1883 |
| (۶) | فضل محمود مخفي | 11جماد الاول 1361- 1301 | 17مئ 1942 – 1884 |
| (۷) | سيد راحت زاخيلي | 5محرم 1383 – 16رجب 1302 | 29مئ 1963 – 19اپرېل 1885 |
| (۸) | وزير محمد ګل خان مومند | 18ربيع الثاني 1384 – 12 رمضان 1303 | 17اګست 1964 – 15جون 1886 |
| (۹) | محمد اسلم خان کمالي | 25 جماد الثاني 1382 – 11شوال 1303 | 23نومبر 1962 – 13جولايي 1886 |
| (10) | محمد اکبر خادم | 1305 – 1373 | 1888 – 1956 |
| (۱۱) | عبدالخالق خليق | 9 صفر 1398 – 1313 | 26جنوري 1978 – 1895 |

(12) قاضي عطاؤ الله 21جمادی الثاني 1371 – 1314 17فروري 1852 – 1896

(13) کاکاجي صنوبر حسين مومند 17شعبان 1382 – شعبان 1314 3جنوري 1963 – جنوري 1897

(۱۴) عبدالمالك فدا 2جمادی الثاني 1375 – 1315 4جنوري 1957 – 1897

(15) خان میر سیلاني 10ذي الحجه 1393 – 1315 4جنوري 1974 – 1897

(16) میا اکبر شاه کاکاخیل 22رمضان 1410 – 5رمضان 1316 8اپریل 1990 – 17جنوري 1898

(17) فضل احمد غر 1385 - 1317 1965 – 1899

(18) عبدالاکبر خان اکبر 28شوال 1397 – 1317 11اکتوبر 1977 – 1899

(۱۹) سمندر خان سمندر 9جمادی الثاني 1610 – 10رمضان 1318 17جنوري 1990 – 1جنوري 1901

(20) محمد گل نوري 1393 – 1320 1973 – 1902

(21) صاحبزاده محمد ادریس 28ذی الحجه 1606 – 1320 25دسمبر 1984 – 1902

(22) شېرمحمد مینوش 26شوال 1397 – 16ذیقعده 1320 18اکتوبر 1977 – 16فروري 1903

(23) سید انوارالحق جیلاني 1610 – 6رجب 1322 1989 – 16ستمبر 1906

(24) قیام الدین خادم 1399 – 1325 1979 – 1907

(25) امیر حمزه شینواری 7رمضان 1414 – ذیقعده 1325 18فروري 1996 – ستمبر 1907

(26) ماستر عبدالکریم 30رجب 1380 – 2 ذیقعده 1325 18جنوري 1961 – 7 دسمبر 1907

(27) سیده قانته بېگم 25رمضان 1410 – 21ربیع الثاني 1326 22مئ 1990 – 21اپریل 1908

(28) میا سعدالله خان نسیم 16محرم 1395 – جمادی الثاني 1326 29جنوري 1975 – جولايي 1908

(29) گل باچا الفت 1396 – 1327 1976 – 1909

(30) سید بهادر شاه ظفر کاکاخیل 12ربیع الثاني ۱۴23 – 18صفر 1328 24جون 2002 – 1 مارچ 1910

(31) سید رسول رسا 23ربیع الاول ۱۴11 – 29ربیع الاول 1328 16اکتوبر 1990 – 10اپریل 1910

(32) علامه عبدالحی حبیبي 8شعبان ۱۴06 – 17ربیع الثاني 1328 9مئ 1984 – 28اپریل 1910

(33) بي بي آمنه بېگم 7جمادی الثاني 1356 – 28ربیع الثاني 1328، 15اگست 1937 – 2مئ 1910

(34) فضل حق شیدا 8جمادی الاول ۱۴03 – 21جمادی الاول 1328 ، 7فروري 1984 – 1جون 1910

(35) عبدالحلیم اثر افغاني 16ربیع الثاني 1408 – جمادي الثاني 1328 ، 8دسمبر 1987 - جون 1910

(36) عبدالرؤف بېنوا 11ربیع الثاني 1405 – 1331 4جنوري 1985 – 1913

(37) خان عبدالغني خان 23شوال 1416 – 1332 15مارچ 1996 – 1914

(38) دوست محمد خان کامل مومند 8ربیع الثاني 1401 – 7ذي قعده 1335، 23فروري 1981 – 16ستمبر 1915

(39) سید عظیم شاه خیال بخاري 27رمضان 1410 – 1335 23اپریل 1990 – 1917

(40) نور محمد تره کی 24شوال 1399 – 25رمضان 1335 16ستمبر 1979 – 14جولايي 1917

(41) طاهر کلاچوي 14شعبان 1402 – 1336 7جون 1982 – 1918

(42) لال زاده ناظر شینواری 25ربیع الثاني 1321 – 1337 1 جولايي 2000- 1919

| | | |
|---|---|---|
| (43) صديق الله رښتين | 6شعبان 1419 – 1337 | 26نومبر 1998 – 1919 |
| (44) نصر الله نصر الکوزی | 5رجب 1383 – 11جمادی الثاني 1337 | 22نومبر 1965 – 14 مارچ 1919 |
| (45) ولي محمد خان طوفان | 21ربيع الاول 1404 – 12شعبان 1337 | 26دسمبر 1983 – 13مئ 1919 |
| (46) عبدالشکور رشاد | 8 شوال 1425 – 13ربيع الاول 1340 | 1 دسمبر 2004 – 14نومبر 1921 |
| (47) نادرخان بزمي | 28جمادی الاول 1421 – 1339 | 29اګست 2000 – 1921 |
| (48) سيده بشرٰی بېګم | 7 جمادی الثاني 1423 – 1340 | 16اګست 2002 – 1922 |
| (49) اشرف مفتون | 22محرم 1425 – 1340 | 14مارچ 2004 – 1922 |
| (50) حسين بخش کوثر غورياخېل | 3صفر 1412 – رجب 1340 | 14اګست 1991 – فروري 1922 |
| (۵۱) ايوب صابر | 12رجب 1410- 26جمادی الثاني 1340 | 8فروري 1989 - 24فروري 1922 |
| (۵۲) صاحبزاده فيضي | 20صفر 1426 – 2 شوال 1341 | 21مارچ 2005-18 مئ 1923 |
| (۵۳) قمر زمان راهي | حيات 1341 | حيات 15استمبر 1924 |
| (۵۴) الفت بېګم درد | 25 ذی الحجه 1397 – 17 رجب 1343 | 6دسمبر 1977 – 11فروري 1925 |
| (۵۵) رضا مومندي | 1جمادی الاول 1420 – 1344 | 13اګست 1999 – 1925 |
| (۵۶) سلطان محمد صابر | 11جمادی الثاني 1429 – 1344 | 26 جون 2008 – 1925 |
| (۵۷) اجمل خټک | 3ربيع الاول 1431 – 27صفر 1344 | 7فروري 2010 – 15استمبر 1925 |
| (۵۸) عبداللطيف وهمي | 6 شوال 1418 – 2 شوال 1344 | ۴فروري 1998 – 15اپرېل 1926 |
| (۵۹) مير مهدي شاه مهدي | 11جمادی الاول 1417 – 8جمادی الثاني 1344 | 24ستمبر 1996 – 3جنوري 1926 |
| (60) عبدالله بختانی خدمتګار | حيات 1345 | حيات 1926 |
| (۶۱) يونس خليل | 17ربيع الثاني 1421 – 2صفر 1346 | 20جولايي 2000 – 1 اګست 1927 |
| (۶۲) مراد شينواری | حيات 1347 | حيات 1928 |
| (63) محمد صديق پسرلی | حيات 1347 | حيات 1928 |
| (۶۴) الف جان خټک | ۴شعبان 1346 | 27جنوري 1928 |
| (65) ارباب رشيد احمد خان | 27ذی الحجه 1424 – 7رجب 1347 | 18فروري 2005 – 20دسمبر 1928 |
| (۶۶) مصري خان خاطر اپرېدی | 25ربيع الاول 1309- 1346 | 11جون 1969 – 1929 |
| (۶۷) سيف الرحمان سليم | 8صفر 1428 – 20شوال 1347 | 8مارچ 2007 – 1 اپرېل 1929 |
| (۶۸) محمد ابراهيم عطائي | شعبان 1422 – 1439 | اکتوبر 2001 – 1930 |
| (۶۹) همېش خليل | حيات 22ذی القعده 1348 | حيات 11اپرېل 1930 |
| (۷۰) سلېمان لايق | حيات 20جمادی الاول 1349 | حيات 13اکتوبر 1930 |
| (۷۱) قلندر مومند | 2 ذی الحجه 1423 – 9ربيع الثاني 1349 | 4فروري 2003 – 1 ستمبر 1930 |
| (۷۲) غلام غوث خېبري | حيات ؟؟ 1350 - | حيات 1931 |
| (۷۳) محمد رحيم الهام | اصفر 1424 – 1350 | 4اپرېل 2003 – 1931 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| (۷۴) ډاکټر شېرزمان تائبزی | | 6محرم 1431 – 22جمادی الثاني 1350 | | 22دسمبر 2009 – 3نومبر 1931 |
| (۷۵) شمس القمر اندېش | حیات | - 1352 | حیات - | 1933 |
| (۷۶) غازي سيال | حیات - | 19ذی الحجه 1351 | حیات - | 15اپرېل 1933 |
| (۷۷) ګل افضل خان | حیات - | ۹ ربيع الثاني 1352 | حیات - | 1اګست 1933 |
| (۷۸) محمد صديق روهي | | 29 ذی الحجه 1416 – 1353 | | 17مئ 1996 – 1934 |
| (۷۹) رحمت الله درد | حیات | 27شعبان 1353 | حیات | 4 دسمبر 1934 |
| (۸۰) عبدالرحيم مجذوب | حیات | 8شوال 1353 | حیات - | 14جنوري 1935 |
| (۸۱) ډاکټر مجاور احمد زيار | حیات | 1353 | حیات | 1935 |
| (۸۲) ولي محمد خان سيال کاکړ | حیات | 1353 | حیات | 1935 |
| (۸۳) لائق شاه درپه خېل | حیات | 14ربيع الاول 1354 | حیات - | 16جون 1935 |
| (۸۴) صاحبزاده حميد الله | حیات | 14جمادی الثاني 1356 | حیات - | 22اګست 1937 |
| (۸۵) زيتون بانو | حیات | 17ربيع الثاني 1357 | حیات - | 18جون 1938 |
| (۸۶) خواجه محمد سائل | حیات | 22جمادی الاول 1357 | حیات - | 20جون 1938 |
| (۸۷) ډاکټر اسرار | حیات | 22شوال 1357 | حیات - | 15دسمبر 1938 |
| (۸۸) طاهر اپرېدی | حیات | 13 ذي قعده 1357 | حیات - | 4جنوري 1939 |
| (۸۹) فوزيه انجم خټک | حیات | 16ربيع الثاني 1358 | حیات - | 5جون 1939 |
| (۹۰) افضل رضا | | 16شوال 1422 – 21ذی الحجه 1358 | | 30دسمبر 2001 – 1 فروري 1940 |
| (۹۱) سعدالله جان برق | حیات | 13ربيع الثاني 1359 | حیات - | 11مئ 1940 |
| (۹۲) اکرام الله ګران | حیات | 1360 | حیات - | 1941 |
| (۹۳) خېبر اپرېدی | حیات | 20ذي الحجه 1360 | حیات - | 8جنوري 1942 |
| (۹۴) سليم راز | حیات | 7 صفر 1358 | حیات - | 29 مارچ 1939 |
| (۹۵) حبيب الله رفيع | حیات | 2شوال 1364 | حیات - | 10دسمبر 1945 |
| (۹۶) ډاکټر محمد اعظم اعظم | حیات | 13شوال 1364 | حیات - | 21 دسمبر 1945 |
| (۹۷) زلمی هېوادمل | حیات | 21محرم 1365 | حیات - | 26دسمبر 1945 |
| (۹۸) محمد اصف صميم | حیات | 1371 | حیات - | 1952 |
| (۹۹) دروېش درانی | حیات | 1372 | حیات - | 1953 |
| (۱۰۰) کبریٰ مظهري ملورو | حیات | 1373 | حیات - | 1954 |

دا اديبان کوم کومو سيمې سره تعلق ساتي نو د دوئ به يو سيمه ايز جدول وړاندې کړو.

**افغانستان**: (۱) وزير محمد ګل خان مومند (1886ء) (۲) محمد ګل نوري (1902ء) (۳) قيام الدين خادم (1907ء) (۴) ګل باچا الفت (1908ء) (۵) عبدالحی حبيبي (1910ء) (۶) عبدالرؤف بېنوا (1913ء) (۷) نور محمد تره کی (1917ء) (۸) صديق الله رښتين ( 1919ء (۹) عبدالشکور رشاد (1921ء) (۱۰) محمد صديق پسرلی (1928ء) (۱۱) عبدالله بختانی خدمتګار (1926ء) (۱۲) سلېمان لايق (1930ء) (۱۳) محمد ابراهيم عطائي (1930ء) (۱۴) غلام غوث خېبري (1931ء) (15) محمد رحيم الهام (1931ء) (16) محمد صديق روهي (اندازاً 1934ء) (۱۷) ډاکټر مجاور احمد زيار (1935ء) (۱۸) حبيب الله رفيع (1945ء) (۱۹) زلمی هېوادمل (1949ء) (۲۰) محمد اصف صميم (1952ء) (21) کبرٰی مظهري ملورو (1954ء)

**پېښور ضلع**: (۱) منشي احمد جان (1883ء) (۲) قاضي عطاؤ الله (1864ء) (۳) خان مير هلالي (1897ء) (۴) کاکاجي صنوبر حسېن مومند (1897ء) (۵) نصرالله خان نصر (1919ء) (۶) ولي محمد طوفان (1919ء) (۷) کوثر غورياخېل (1922ء) (۸) صاحبزاده فيضي (1923ء) (۹) رضا مومندي (1925ء) (۱۰) مهدي شاه (1926ء) (۱۱) يونس خليل (1927ء) (۱۲) ارباب رشيد احمد خان (1928ء) (۱۳) سيف الرحمان سليم (1929ء) (14) همېش خليل (1930ء) (15) قلندر مومند (1930ء) (16) ګل افضل خان (1933ء) (17) زيتون بانو (1938ء) (18) خواجه محمد سائل (1938ء) (19) فوزيه انجم خټک (1939ء)

**پېښور نوښار ضلع**: (۱) ش مير احمد شاه رضواني (1860ء) (۲) راحت زاخيلي (1885ء) (۳) عبدالخالق خليق (1895ء) (۴) ميا اکبر شاه کاکاخېل (1898ء (۵) سمندر خان سمندر (1901ء) (6) انوارالحق جېلاني (1904ء) (۷) ميا سعد الله خان نسيم (1908ء) (۸) بهادرشاه ظفر کاکاخېل (1910ء) (۹) سيد رسول رسا (1910ء) (10) بي بي امنه بېګم (1910ء) (۱۱) کامل مومند (1915ء) (۱۲) خيال بخاري (1917ء) (۱۳) سيده بشرٰی بېګم (1922ء) (۱۴) اجمل خټک (1926ء) (15) ډاکټر شېرزمان طائزی (1931ء) (16) افضل رضا (1940ء) (18) سعدالله جان برق (1940ء)

**بلوچستان صوبه**: (۱) علامه عبدالعلي اخوندزاده (1872ء) (۲) سلطان محمد صابر (1925ء) (۳) صاحبزاده حميد الله (1937ء) (۴) سيال کاکړ (1935ء) (۵) درويش دراني (1953ء)

**جنوبي اضلاع**: (۱) طاهر کلاچوي (1918ء) (۲) ايوب صابر (1922ء) (۳) الف جان خټکه (1928) (۴) غازي سيال (1933ء) (۵) رحمت الله درد (1934ء) (۶) عبدالرحيم مجذوب (1935ء)

**چارسده**: (۱) محمد اکبر خادم (1888ء) (۲) عبدالمالك فدا (1897ء) (۳) عبدالاکبر خان اکبر (1899ء) (۴) ماسټر عبدالکريم (1908ء) (۵) فضل حق شيدا(1910ء) (۶) عبدالغني خان (1914ء) (۷) اشرف مفتون (1922ء) (۸) اکرام الله ګران (1941ء) (۹) سليم راز (1939ء) (10) ډاکټر محمد اعظم اعظم (1945ء)

**صوابی**: (۱) ميا يوسف کاکاخېل ( ؟ ) (۲) فضل احمد غر (1899ء) (۳) صاحبزاده محمد ادريس (1902ء) (۴) شېرمحمد مينوش (1903ء) (۵) سيده قانته بېګم (1908ء) (۶) نادرخان بزمي (1921ء) (7) الفت بېګم درد (1925ء)

**قبايلي علاقې**: (۱) عبدالمجيد سعيد افغاني (1872ء) (۲) فضل محمود مخفي (1884ء) (۳) اميرحمزه شينواری (1907ء) (۴) عبدالحليم اثر افغاني (1910ء) (۵) لال زاده ناظر (1919ء) (۶) عبداللطيف وهمي (1926ء) (۷) مراد شينواری (1928ء) (۸) خاطر اپرېدی (1929ء) (۹) لائق شاه درپه خېل (1935ء) (10) طاهر اپرېدی (1939ء) (11) خېبر اپرېدی (1942ء)

**مردان**: (۱) محمد اسلم خان کمالي (1886ء) (۲) قمر راهي (1924ء) (۳) شمس القمر انديش (1933ء) (4) ډاکټر اسرار (1938ء)

# کتابيات

(۱) هېوادمل، زلمی، د ادبي تاريخ ميتوډولوجي، د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه، ګوندي مطبع، 1367، 1988ء مقدمه م، ب.

(۲) کانديد اکاډيميشن محمد صديق روهي، د پښتو د ادبي تاريخ دورې څنګه ټاکل کېدای شي؟ د ادبي تاريخ ميتودولوجي، م م 37- 14.

(۳) سرمحقق زلمی هېوادمل، د پښتو نثر اته سوه کاله، ملت پرنټرز لاهور، 1375 ش/ 1996ء، م م 47- 646.

(۴) ډاکټر ميا سهيل انشاء، جرس نظم نمبر دوره بندي شننه، لومړی ټوک، فرور- مارچ 2002ء، م م 202- 184، دويم ټوک هيله، اپريل- مئ 2002ء م م 39- 25.

(۵) کانديد اکاډيمشين سرمحقق محمد صديق روهي، د پښتوادبياتو تاريخ، دويم ټوک (معاصره دوره) دانش کتابتون پېښور، 1378 ش/ 1999ء، م 52.

(6) 1998 Provincial Census Repart of NWFP, Populatim Census Organization, Stalistics Division, Government of Pakistan, Islamabad, October 2000, table 10, p. 162.

(7) 1998 Census Report of F.A.T.A, Population Censue Organization… Islamabad, March 2001, table 10, p 58.

(8) 1998 Provincial Census Report of NWFP. op. cits, p 162.

(۹) ډاکټر ميا سهيل انشاء، د پښتو د شمېر په باب د تېروتنو سمونې، دوه مياشتنۍ ورځ، مارچ – اپريل 2004، مخ 66.

(۱۰) شمس العلماء قاضي مير احمد شاه رضواني پشاوري، (مؤلف و مرتب) بهارستان افغاني پښتو زبان کا کورس، رائې صاحب منشي ګلاب سنګهه اينډ سنز، ايجوکيشنل پبلشرز، 1931ء اشاعت دويم، مخ 39- 136.

(11) سيد عظيم شاه خيال بخاري، رضواني، کابل، (مجله) کابل افغانستان، جدي 1324ش 1945مخ 34 او د خيال بخاري بله ناچاپه ليکنه د همېش خليل په کتابتون کښې.

(۱۲) سرمحقق روهي، د راحت زاخيلي لنډي کيسې، د راحت ياد (د مقالو مجموعه) د کابل پوهنتون فرهنګي شورٰی په زيار، د کابل پوهنتون مطبع 1363ش / 1984ء، مخ 40.

(۱۳) Captain H.L. evill Compaigns on the North- West Frontier Prorince Sang. e. Meel Puhlication Lahore, manzoor prinhiag press, Lahore, reprint, 1977, appendix d, p. 404.

(14) محمد اصف خان، تاريخ رياست سوات، و سوانح حيات جناب ميا ګل ګل شهزاده يعني شاه عبدالودود خان معمار رياست سوات، فيروز سنز پشاور، سن اشاعت ندارد. مخ 195.

(15) Dr. Sher Zaman Taizi, Bacha Khan in Afghanistan (memoirs) kamil Pashto Adabi Jirgah, Pabo Seeme, Distt Nowohera, Pakhtoonkhwa, Pakistan 2002, p 2.

(16) حبيب الله رفيع، ژبپالنه، (لومړی ټوك) د افغانستان د علومو اکاډيمي د ژبو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه، ګوندي مطبع، ميزان 1361 ش / 1982ء مخ 131.

(17) سرحد مجله، پښتو برخه مارچ 1926، مخ 13 حواله نصر الله ناصر، (مدون ومرتب) د ښکارندوئ غوري په قصيده مشاعره، د افغانستان د علومو اکاډيمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، پښتو ټولنه، دولتي مطبع، 1362ش / 1983ء مقدمه، مخ 13.

(18) عبدالخالق خليق، زه او زما زمانه، اداره اشاعت سرحد قيصه خوانۍ پېښور، منظور عام پريس پېښور، مارچ 1968، م 40- 45 او 63- 62.

(19) اکبر، عبدالاکبر خان، د برصغير پاك و هند په ازادۍ کښې د پښتنو برخه، زما د ژوند سره تړلي حالات، يونيورستي پبلشرز قيصه خوانۍ بازار پېښور، اګست 2009، مخ 51.

(20) رفيع، حبيب الله، په شلمه پېړۍ کښې د پښتو ادب د ودې دپاره نوی لوری او نوې لارې، تماس، 6مه ګڼه، 1996ء، مخ 29، حواله زلمی هېوادمل، (سرمحقق) پښتو نثر اته سوه کاله، ملت پرنټرز لاهور، 1375ش/ 1996ء مخ 746.

(21) پښتو نثر اته سوه کاله، مخ 752.

(22) اپرېـــدی، میـــا خـــان، د خپلـــواکۍ تـــړون، 9 ســـنبله، 1347 ش/ 1968ء کابل، مخ 28- 116.

(23) رام سرن سنګهـ نګینه، سرخ پوش کسان، 1939، مخ 13.

(24) د خپلواکۍ تړون، مخ 120.

(25) پښتو نثر اته سوه کاله، مخ 83 – 782.

(26) 1998 Provincial Census Report of Balochistan, Popularin Census Organization… Nov. 2001, Table 10. p 168.

(27) د خپلواکۍ تړون، مخ 121.

(28) پښتو نثر اته سوه کاله، مخ 789.

(29) د خپلواکۍ تړون، مخ 121، 127.

(30) د پښتو د شمېر په باب د تېروتنو سموني، مخ 67.